# د ارباب معز الله خان مومند زمانه

The Period of Arbab Mazullah Khan Momand

ډاکټر سهیل انشا

**Abstract**: *Mazullah Momand is one of the main followers of the Rehman Baba school of thought. He is a trilingual poet including Pashto, Urdu and Persian. As other classic poets the proper period of Mazullah Momand is still not known to the literary circles.*
*Writer of this paper explores and investigates assorted aspects of the life and literary period of Mazullah Khan Momand.He argues that literary circles are still not convinced regarding his date of birth alongwith his literary period.*
*In this paper it is strived to unearth the accurate and possible period of Mazullah Khan Momand after citing the proper references of the research work carried yet.*

تراوسه پورې ارباب معز الله مومند وړومبنی معلوم پښتون شاعر دی چې په دريو ژبو پښتو، فارسي او اردو کښې ئې باقاعده شاعري کړې ده. اګرچې د اردو ئې صرف شپږ غزلې او يو مخمس زمونږه واك کښې دي. زمونږه د پښتو ادب کل وقتي پينځۀ ستوري (Pentateuch) خو مرزا خان انصاري، خوشحال خان خټك، عبدالرحمان بابا مومند، عبدالحميد بابا مومند او محمد کاظم خان شېدا خټك دی چې د دوئ کلام بين الاقوامي شهرت موندلی دی. دوئ پسې بيا څۀ دوه دوه نيم درځنه داسې شاعران هم شته چې د خپل کلام په زور ئې ادبي حلقو کښې نوم ژوندی پاتې دی. په دې شاعرانو کښې يو نوم د ارباب معز الله خان مومند هم دی. چې په شاعرۍ کښې د رحمان بابا د مکتب يو پېرو دی. د دۀ د ژوند زمانه اګرچې معلومه ده خو په نسبتاً بشپړه توګه روښانه نۀ ده. دلته زمونږه مقصد دا دی چې د لاس لاندې معلوماتو په رڼا کښې د ارباب معز الله خان مومند د ژوند زمانه نسبتاً بشپړې روښانتيا طرفته بوځو.

کیلي دار ټکي (Key Words)
ارباب معز الله خان مومند
د دهٔ د ژوند معلومه زمانه
معلومه زمانه نسبتاً بشپړه کول

فرض کړه یو انسان 1710ء کښې پیدا او 1790ء کښې وفات دی خو لاتراوسه ئې سنونه را جوت شوي نهٔ دي نو که داسې صورت کښې یو محقق د دهٔ اندازاً زمانه په دې توګه وښائي نوټول درست دي:

20- 1710ء 30- 1720ء، 40، 1730، 70- 1740ء وغیره نو دې کښې یو ته هم غلط نهٔ شې وئیلی ځکه چې د ټاکلي حدود د چوکاټ نه بهرته نهٔ دي تلي. خو زمونږه خو د شاعر ادبي ژوند سره تعلق دی. په دې وجه 20- 1710ء اګرچې صحیح دی خو د شاعر ادبي ژوند سره تعلق نهٔ لري. 30- 1720ء زمونږه څهٔ راهنمائي کولی شي. ځکه چې فطري شاعران اکثر شل کالو په عمر کښې یا د دې نه وړاندې هم په شاعرۍ کولو قادر وي. 40- 30 یو داسې عمر وي چې شعري حلقو کښې ئې نوم خور وي او وریسې زمانه کښې خو کافي مشهور وي. ځکه چې دا د دهٔ د پخې شاعرۍ دور وي. اوس به راشو خپل موضوع ته یعنې د معز الله خان مومند د دور ټاکنه کول.

تراوسه پورې خو داسې بریښېدله چې د معز الله خان مومند صرف درې غزلې په 1872ء کښې د پادري هیوز کلیدِ افغاني سره متصل په چمن بې نظیر (م م. 402 – 361) کښې راغلې دي (1). او کله چې علامه عبدالحی حبیبي 1941ء کښې پښتانهٔ شعراء لومړی ټوك چاپ کړو نو هغهٔ هم د کلیدِ افغاني دغه درې غزلې په دې کښې شاملې کړې(2). خو دې سره په وړومبني ځل دهٔ د معز الله خان مومند په بابله لیکنه وکړه او دی ئې د عبدالقادر خان خټك معاصر و بللو. او په 1100هـ شا و خوا کښې ئې ژوندی وبللو. (همدغه: 289) دلته د دهٔ زمانه متعین کولو کښې عبدالحی حبیبي سره صرف یو دلیل ښکارېدو او هغه دا چې معز الله هم

په هغه مشاعره کښې برخه اخستې وه. د کومې سر چې خوشحال ایښې ؤ. هغه مطلع دا ده:

"لکه زۀ په یار مئین یم بل به نۀ وي مئین هسې
لکه زۀ پسې غمژن یم بل به نۀ وي غمژن هسې" (3)

دراصل دا مشاعره نۀ وه بلکې په شعوري ډول په بېلا بېلو زمانو کښې مختلفو شاعرانو په دغه ردیف او قافیه نظمونه یا غزلې جوړې کړې دي. او دې ته مونږه استقبالي غزلې یا ځوابونه وئیلی شو، دلته د ریکارډ درست کولو په خاطر به دا عرض وکړو چې په پښتو ادب کښې دغه استقبالي ځوابونه ټولو کښې اول د مرزاخان انصاري په دې مطلع او مقطع:

د عاشق له حاله څۀ پوښتې وګړی
د بې حده لارې قیاس نۀ دی چا کړی
اې مرزا دې ائینې ته نظر وکړه
د پولاد په میان کښې نشته و سپنځړی

مرزاخان 1040هـ / 1631ء کښې شهید شوی دی. نو د دۀ دا غزل کم از کم د دغه تاریخ یادې نه وړاندې دی او د خوشحال غزل: "لکه زۀ په یار مئین یم"... د 1100هـ / 1689ء یا دې نه وړاندې دی. په دې وجه د داسې قسمه استقبالي ځوابونو پېشرو مرزاخان دی چې د دۀ په دې غزل محمد، رحمان بابا، عبدالقادر خان، سکندر خان خټک، حسین، سعید، عبدالحمید مومند، بېدل، بیاض او قنبر علي خان استقبالي ځوابونه وئیلي دي(4).

تراوسه داسې هیڅ پته نۀ لګېده چې د معز الله ذکر چرته خپلو همعصرو کړی دی او که نه؟. او د دې وجه دا ده چې زمونږه د څۀ پخوانو شاعرانو کتابونه لاتراوسه ناچاپ دي. ګنې بیا دوئ څۀ نا څۀ ذکر د خپل کوم همعصر شاعر وکړي. هرکله چې پروفېسر ډاکټر محمد حنیف د ځمکنو میا عمر صاحب باندې خپله پي ایچ ډي ترسره کړه او بیا ئې خپله

دا مقاله په 1987ء کښې شائع کړه. نو په دې کښې دوه داسې شاعران وو چې هغوئ د معز الله ذکر کړې ؤ. يو خو مولانا مسعود ګل پاسنی (زمانه: 1212هـ / 1797ء) دی هم په 1212هـ کښې دۀ د مناقب ميا صاحب چمکني په نوم يو کتاب تحرير کړو.(5). دا مسعود ګل پاسنی د معز الله خان په بابله ليکي:

"ارباب خېل معز الله خان په ذات مومند
دا کلام د دۀ د خولې دی دلپسند (ترپايه)(6)

بل شاعر چې د معز الله ذکر کوي هغه مولوي اخوند دا دين دی. دۀ هم د څمکنو ميا عمر صاحب په کراماتو يو کتاب د "مناقب حضرت مياں صاحب چمکني" په نوم 1219هـ/ 1804ء کښې د يوسفزو او مندړو مريدانو په اصرار په پښتو کښې ترجمه کړو"(7). خو ورکښې داسې ښکاري چې ځائ په ځائ د پښتنو شخصياتو ذکر هم شته، دۀ خپل کتاب چې 1219هجري کښې ترجمه کولو نو خپل عمر ئې اويا کاله ښودلو په دې وجه پيدائش ئې 1149هـ جوړيږي (همدغه م، 418) مولانا دادين (ز: 1219- 1149هـ / 1804- 1737ء) د معز الله ذکر څو ځله په دې توګه کوي:

1) دا قصه ګوره چې څۀ رنګ هويدا ده:
سربندي معزالله وئيلې دا ده... مناقب دادين. م 1340
2) معز الله نومانډ پښتون ؤ د صاحب خدمتي
چې ذره وار به تۀ راتۀ نز دې خورشيد نظير ..... همدغه. م. 96
3) وايم دا معز الله نومانډ پښتون ؤ
د خدمت ئې په دې در کښې پيوستون ؤ ...... همدغه. م. 95
4) حکايت معز الله د سربند دا
په درې بنده را څرګند که خوشنما ..... همدغه. م. ؟
5) د سربند معز الله قصه وئيلې
دا دُر دي په فارسی کتاب کښې ښکلي (8) .... همدغه. م. ؟

دي نــه دومــره پتــه ولګېــده چــې اربــاب معــز الله مومنــد خپلــو دوو همعصـرو شـاعرانو مسـعودګل پاسـني او مولانـا داديـن يـاد کـړی دی. پـه دې شـپږو حوالـو (يـوه د مسـعودګل او پينځـۀ د داديـن) کښـې د مسـعودګل او داديـن پـه نمبـر 1، 3، 4 کښـې د دۀ پـه حوالـه زبـاني خبرې شـوي دي. البتـه پـه پيـنځم نمبـر منقبـت کښـې داديـن د دۀ ذکـر د ليکـوال پـه حېثيـت کـړی دی. اګرچـې معـز الله د فارسـۍ شـاعر هـم ؤ. خـو دې سـره سـره دۀ پـه فارسـۍ کښـې د مجمـع الاسـرار پـه نـوم يـو کتـاب هـم ليکلـی دی چـې پـه کښـې د ميـا عمـر صـاحب شـان کښـې څـۀ د پاسـه پنځـوس کشـفونه بيـان شـوي دي. نـو داديـن غالبـاً دغـه کتـاب تـه اشـاره کوي. نۀ چې شـوي ديـوان تـه. البتـه دلتـه بـه يـو بـل حقيقـت هـم منـل وي هغـه دا چـې دې دواړو شـاعرانو د معـز الله مومنـد ذکـر د هغـۀ د پښـتو شـعري کـلام پـه وجـه نـۀ دی کـړی بلکـې د ميـا عمـر صـاحب د يـو ارادت منـد او مريـد پـه حوالـه ئـې کـړی دی. او د دۀ د خـولې يـا د کـلام نـه ئـې هغـه واقعـات رانقـل کـړي دي کـوم چـې ميـا عمـر صـاحب سـره اړه لـري. د دې بحـث خلاصـه دا شـوه چـې معـز الله مومنـد پـه خپـل دور کښـې هـم يـاد شـوی دی او بيـا يـو ختيځـپوه پـادري هيـوز ئـې درې غزلونـه هـم چـاپ کـړي دي. دې نه پس بيا پرې عبدالحی حبيبي سرسري بحث کړی دی.

پـه معـز الله مومنـد اکېـډېمك کـار هغـه وخـت پيـل شـو کلـه چـې همېش خليـل د دۀ ديـوان پـه وړومبـي ځـل ادبـي دنيـا تـه پـه اکتـوبر 1957ء کښـې پـېش کـړو. او د دۀ د کـلام نسـبتاً يـو بشـپړ جـاج ئـې پـه مقدمـه کښـې واخسـتو. کـه عبـدالحی حبيبـي دی د 1100هــ شـا و خـوا ژونـدی ښـودلی دی نـو همـېش خليـل هـم د معـز الله پـه ديـوان د خوشـحال هغـه غـزل: "لکـه زۀ پـه يـار مئـېن يـم ..... پـه بنسـټ د عبـدالقادر خـان ختـك همعصـر ګڼلـی دی. او د عبدالقادر خان ژوند د هغه د دې بيت:

ســـن زر ســـل د جـــدائۍ څـــوارلس دپاســـه
دا غـــزل مـــې پـــه بيـــاض بانـــدې رقـــم کـــړ

په روسره 1114هـ ښائي. نو په دې توګه معز الله هم دغې کالو پورې ژوندی ښائي. دا هم زياتوي چې د معز الله ديوان په اخري پاڼه 1159هـ ليک دی. په دې وجه دا نسخه به د 1159هـ وي.(9)

دې نه پس بيا خيال بخاري د معز الله خان ديوان چاپ کړو کوم چې د سابقه په مقابل کښې نسبتاً زيات مکمل ؤ. په دې باندې د خيال بخاري يوه ښه په زړۀ پورې معلوماتي مقدمه ده. دې د يو بحث نه پس وائي چې مونږه په يوه اړتا وکه اندازه د معز الله خان د زېږون وخت 1085هـ په شا و خوا کښې تصور کولی شو.(10)

په دې مقدمه کښې هم او بيا د ديوان په مخ 176 باندې هم د ديوان د تکميل سن ښائي. او داسې چې دا ديوان د معز الله په خط دی. عبارت داسې دی:

"تمت تمام شد بعون الملك الوهاب مسمٰی به ائينه معنی نما" نسخه ديوان من حقير بی توقير معز الله بن ملك عبدالله خان مرحوم بدستخط خود بنده معز الله بتاريخ 29 ذی قعده بروز سه شنبه 1159هـ (همدغه. م. 176)

اګرچې تراوسه مونږه د معز الله د زېږون نېټې باندې بحث نۀ دی کړی خو دا چې ژوند ئې تر دغه وخت پورې يقيني دی خو د خيال بخاري د زېږون نېټه 1085هـ نه هم هغه د حبيبي صاحب او همېش خليل نتيجه راوځي چې ژوند ئې 1100هـ شا و خوا ښا ئي . د خيال بخاري په قول دې نېټې نه پس معز الله بيا په خپل ديوان نظرثاني کول پېل کړه. دۀ په کښې ځائ په ځائ اصلاح وکړه او دې نه پس ئې په اولنې او اخري مخ د خپلې ګوتې ثلور ګوټيز مهر ثبت کړو. په دې مهر باندې 1141هـ کال ليک دی. څۀ غزلې په کښې په حاشيه هم ليکلی شوې دي. (همدغه. م. 14)

د معز الله دغه نسخه پښتو اکېډمۍ په لائبريرۍ کښې د ق 990 لاندې خوندي ده. دې نسخې کښې په سور رنګ د مخونو نمبرونه هم دي. لکه په قلمي نسخه کښې مخ 10 باندې يوه نيم بيتۍ داسې ده:

په زړۀ شق شه تور لوګی ورنه روان شه (11)

دا ئې بيا په حاشيه کښې داسې سمه کړې ده:

ستا د سترگو غارت گر چې پرې نظر کا

کوم چې د خیال مرتبه دیوان کښې په مخ 10 باندې دغه اصلاح شوي شکل کښې راغلی دی. دغسې په دې نسخه کښې دوه مطلعې داسې دي:

ځـه خوښـي بـه پـه دا عمـر پـه شـتاب کـړې
د اهـو د رم پـه سـوري بـه ځـه خـواب کـړې
تـور وېښـتهٔ کـه پـه سـپین مـخ بانـدې پرېشـان کـړې
پـه تـاثیر بـه ړنـا ورکـه لـه جهـان کـړې (همدغـه. م. 87)

دې دواړو تـه ئـې دا نخښـه (X) لګـولې ده. ځکـه د خیـال بخـاري پـه مرتبـه دیـوان کښـې نشـته. پـه دې توګـه دا تـرې ثـابتیږي چـې معـز الله خـان مومنـد تـر 1161هــ پـورې ژونـدی ؤ. دې نـه پـس 1161هــ کښـې د دیـوان د اصلاح نـه چې فـارغ شو. نو بیا ئې په فارسي ژبه کښـې د ځمکنو میا عمر صـاحب پـه بابلـه مناقـب ولیکـل. د دې یـوه فوټـو سټېټ نسـخه د کتابخانـه ګنج بخش مرکـز تحقیقـات فارسـي ایـران و پاکسـتان اسـلام ابـاد د لائبرېری نـه شـوې ده. او دلتـه پـرې د کتابخانـه خانـه فرهنـګ جمهـوري اسـلامي ایـران پشـاور نمبـر 12921 دی. د کتـاب نـوم "مجمـع الاسـرار" دی. ورتـه لیـك دی. مناقـب میـاں صـاحب چمکنـي از معـز الله خـان بـن عبـدالله خـان بـن ملـك محمـد خـان پـه دې کښـې د میـا صـاحب پـه بابلـه پنځوسـو نـه زیـات کشـفونه دي. د کتـاب پـه خاتمـه کښـې د تـالیف کـال د ابجـدو پـه یـو داسـې طریقـه ورکـوي چـې سړی پـرې دهٔ تـه داد ورکولـو نـه بغیـر نـهٔ شـي پـاتې کیـدی. مـا د خپـل کـم علـم مطـابق د ابجـدو دا طریقـه مخکښـې نـهٔ وه لیـدلې. راځـئ چـې هغه خاتمه ولولو.

شـکر کـه ایـن نامـه بپایـان رسـید : شـربتِ خـوش از نئـی کلکـم چکیـد
چونکـه پـذیرفت سـخنِ اختتـام : مجمـع اسـرار او را گشـت نـام
چـون نظـر فکـر درو کشـت و حـرف : بـود زتـاریخ دران چـار حـرف
اولِ جـان بـود اخیـر حـواس : حـرفِ سـوئم اوسـطِ عقلـش شـناس

.... .... .... .... ... ... .... .... ..... ..... ...... ......

اخیــران احمــد حــرف چــراغ : نــور خزائنــدۀ هــوش دمــاغ
حــرف دو از نــامِ مبــارك مراســت : مــیمِ میــان افســرِ تــارك مراســت
عــین وی انــدر دل نــام مــن اســت : درد و جهــان ســکه بــه نــام مــن اســت
عــزت کــونین مــرا کــن نصــیب : روز قیامــت بطفیــلِ حبیــب
عــزتم اَز عــین و محبــت صــمیم : رای ریاضــت بعطــائے عمــیم (12)

دغــې ابجــدو نــه 1163هــ ســن راوځــي. تــر دې نــۀ صــرف دی ژونــدی ؤ بلکــې د میــاں عمــر صــاحب پــه شــان کښــې ئــې د منــاقبو کتــاب هــم ترســره کــړو. اوس بــه د دۀ مزید ژوند دپاره یو ځل بیا د خیال بخاري مقدمې ته رجوع کوو.

خیــال بخــاري پــه دیــوان خپلــه مقدمــه کښــې د یــوې مقــدمې نقــل پــېش کــوي کــوم بانــدې چــې ســن 1167هـــ لیــك دی. دا مقدمــه د معــز الله ورور حبیــب الله لیکلــې ده. پــه دې مقدمــه کښــې دۀ د "هــر ســه بــرادران" ذکــر کــړی دی.(13) د عبــدالله خــان درې زامــن وو. حبیــب الله خــان، عزیــز الله خــان او معــز الله خــان. نــو تــر دې وختــه هــم دی ژونــدی دی. مقدمــه اکثــر مشــر ورور دائــر کــوي. نــو حبیــب الله خــان بــه مشــر وي. او لکــه چــې پــه خپــل وخــت بــه وښــودلی شــي. عزیــزالله تــه هــم دۀ مشر ورور وئیلی دی. نو معز الله کشر ښکاري.

اوس د پښــتو ادب پــه تــاریخ کښــې یــوه بلــه داســې ویــاړلې موقــع راځــي چــې د زمکــې پــه سر ئــې مثــال نــۀ مونــدل کیــږي. او هغــه دا چــې د نــړۍ پــه مــخ پــه وړومبــي ځــل د پښــتو ژبــې او ادب پــه بابلــه پــه بــاړه ګلــۍ هــزاره کښــې د پښــتو شــل ورځنــی ســیمینار پیــل کیــږي. پــه 26 جــولائي 1965ء کښــې ســحر 11 بجــې د پښــتو اســلامیاتو او جغرافیــې ســیمینار د پېښــور پوهنتــون د وائــس چانســلر چوهــدري محمــد علــي پــه وینــا پرانســتل شــول. پــه دې کښــې د افغانســتان نــه خــادم، مولانــا محمــد شــاه ارشــاد، عبدالشــکور رشــاد، نــور احمــد شــاکر او صــدیق الله رښــتین هــم شــامل وو. پــه سبا لــه پــه 27 جــولائي ســحر وخــت کښــې د ســیمینار وړومبنــۍ غونــډه پیــل شــوه پــه دې ورځ ســیمینار کښــې عبــدالجبار خلیــل د معــز الله مومنــد پــه بابلــه خپلــه مقالــه ولوســتله. پــه دې کښــې دۀ معــز الله مومنــد د شــېخ احمــد ســرهندي مریــد بللــی ؤ. ښــاغلي رشــاد د دواړو پــه مینــځ کښــې د ســنونو د لــرې والــي پــه وجــه دا خبــره ســمه و نــۀ ګڼلــه او پــه پــای

کښې داسې خبره وشوه چې دی به د شېخ احمد د کورنۍ مرید وي. نو په دې واسطه ورته د هغهٔ مرید وئیلی کېدی شي.(14)

په دغه سیمینار کښې د معز الله مومند په اړه د دغه غلط فهمیانو د ازالې دپاره پردل خان خټک ارباب لنډۍ ته د معز الله خان مومند د خانداني غړو سره رابطې په خاطر د مولانا اسرائیل په ملګرتیا کښې لاړو او ارباب عسکر خان سره ئې لیدهٔ وشو. جناب شېخ احمد سرهندي په 971هـ کښې پیدا شوی ؤ او 1034هـ کښې درې شپېتهٔ کالو په عمر کښې وفات شوی دی. په دې وجه د معز الله له طرفه دا خبره چې هغه د شېخ احمد سرهندي مرید ؤ سمه نهٔ ده. البته دی د شېخ احمد سرهندي د ګدائۍ مرید ؤ. د دهٔ یوه کوروداني د سرهندي شریف وه ځکه چې د دوئ په ذاتي لائبرېرۍ کښې دوه چټیانې داسې په لاس راغلې چې د سرهند شریف خپلو خپلوانو دې پاکې بي بي ته رالیږلې وې. د دې بي بي نوم امیر بېګم ؤ . د معز الله دې بي بي نه یو اولاد هم شوی ؤ چې نوم ئې فیض الله خان ؤ. او دی لاولد وفات شوی ؤ(15). دلته دوئ په وړومبني ځل د دغه کورنۍ د کتب خانې نه دوه قلمي نسخې ترلاسه کړې. یو ګلستان سعدي چې پښتو اکېډمۍ پېښور پوهنتون په کتابتون کښې د ق. 567 لاندې خوندي دی او بل کتاب "تیمورنامه" نومیږي چې همدغه ځائ کښې د ق. 568 لاندې خوندي دی. هسې خو دا دواړه مشهور کتابونه دي. خو تیمورنامه یو داسې کتاب دی چې د دې اخره کښې معز الله مومند په خپل قلم د ځنو خلقو د وفات قطعې لیکلې دي. کومې چې د معز الله مومند 1167هـ نه هم وړاندې ثابتوي. د دې تیمورنامې په اخري سپین مخونو کښې دهٔ د خپل یو زوئ د پیدائش ذکر داسې کړی دی:

کودکِ فرخنده در اسعد زمان : شد تولد نام او فیض الله خان
از محلِ خواجه زادی پر تمیز : شد منور خانهٔ معز الله خان
باد بر خوردار دایم برجهان : فرضتِ دل شد ازوئ جاودان
عمر وی افرون بود هم عقلِ او : از شمار و از حساب و از بیان
سالِ تاریخش فرد بافهم گفت : "خوش مبارك باد" بر کو ایجوان (16)

"خــوش مبارکبــاد" نــه 1176هــ راوزي او تــر دي وختــه موصــوف ژونــدی ښــائي. دلتــه یــوه نقطــه ده چــې غــور غــواړي د تیمورنــامې پــه اخــر مهــر کښــې لیــك دی. بتــاریخ پــانزدهم شــهر شــوال المکــرم ســن هجــرت 122- یعنــي 122هــ لیکــي. بیــا د تیمورنــامې ټولــو کښــې اخــر کښــې لیــك دی. بتــاریخ بســت و چهــارم مــاه شــوال المکــرم درملــكِ نعــیم الله شــده 122 یعنــي پــه دې ښېټــه تېمورنامــه د نعــیم الله پــه ملکیــت کښــې راغلــه. اوس دی 122 نــه نــهٔ 1022 مــراد دی، نــهٔ 1122 ځکــه چــې دې وخــت خــو لامعــز الله هــم پیــدا نــهٔ ؤ. او بیــا چې دا نسخه د نعیم الله کیـږي نـو هغـه بـه ښـهٔ بـالغ ؤ. نـو دې نـه زمـونږه صـرف مــراد 1220 اخســتی شــو. ځکــه چــې د دهٔ یــو ورور 1176هجــري کښــې پیــدا دی نــو نعــیم الله بــه دهٔ نــه دوه درې کالــه مخکښــې (ز: 1173هجــري) یــا وروســتو (ز: 1179 هــ) وي. او 1220هــ کښــې بــه د دهٔ عمــر 47 یــا 61 کالــه وي. بهرحال 24 شوال 1220هـ 15 جنوري 1806ء سره سمون خوري.

د تېمورنــامې پــه اخــره کښــې معــز الله مومنــد هــم پــه کــال 1176هــ کښــې د خپل مشر ورور عزیز الله خان په اړه ذکر داسې کړی دی.

قــــدوه اربــــاب دانــــش زبــــدهٔ اصــــحاب هــــوش
اختــــر بــــرج و ســــعادت گــــوهر درج و حیــــا
کــــه نبــــودی قلــــزم جــــانِ عزیــــز الله خــــان
پــــیش او دریــــا چــــرا کشــــتی گرفتــــی چــــون گــــدا
عرصــــه دنیــــا چــــون او افتــــاد پــــس را در نظــــر
زانــــد خــــیش همــــت خــــود برســــمٰوات اعلٰــــی
چلــــهٔ چــــل ســــالگی را صــــوفی روحــــش کشــــید
راســــت هجــــون تیــــر رفــــت اخیــــر بمیــــدانِ قضــــا
پــــنجم مــــاه ربیــــع الاول ان شــــب جمــــع بــــود
تاکــــه ذات النجیــــب ســــوء راســــت عــــارض شــــد دوا
ســــال تــــاریخش چــــون پرســــیدم زجــــالینوسِ عقــــل
گفــــت بیــــرون کــــن ز "ذات الجنــــب" اعــــدادِ دوا

او اخره کښې ئې د مرګ کال داسې ورکوي:

ذات الجنب نه د ابجدو په حساب سره 1187 راوزي او "دوا" ابجدي ارزښت 11 دی. نو د ذات الجنب 1187 نه چې د دوا 11 تفریق کړی نو 1176هـ به تري نه حاصل شي. او ورسره وضاحت دپاره لیکي: "پنجم ماهِ ربیع الاول ان شبِ جمعه بود. یعنې 5 ربیع الاول 1176هـ باندې شب جمعه وه. مونږه چې تقویم تاریخي ته نظر وکړو نو 1 ربیع الاول 1176ء / 20 ستمبر 1762ء باندې دو شنبه ده (17). نو په 5 ربیع الاول 1176/ 24 ستمبر 1762 باندې واقعې چې د جمعې ورځ راځي. او کېدی شي چې د شپې په وخت کښې وفات وي. ځکه ئې شبِ جمعه لیکلی دی. هسې پښتانهٔ د جمعې شپه د زیارت په ورځ ماښام نه پس حسابوي. خو دا چې په هجري سنونو کښې اکثر د یوې ورځې نیمې فرق هم وي. لکه زمونږه ملك کښې چې اکثر دوه اختره کله کله درې هم کیږي.

دا مرثیه د معز الله عمر تر 1176هـ کالو پورې اوږدوي. خو دا مرثیه یو بل ډېر لوئ ارزښت لري او هغه دا چې تر اوسه مونږه د معز الله د عمر په بابله هغه حصې باندې زیات بحث وکړو کوم چې د دهٔ عمر بوډاوالي طرفته بیائي او د معلوماتو د کمبوت په وجه د دهٔ د پیدائش په بابله زیات بحث و نهٔ شو. پردل خټك ته د ارباب معز الله خان د کورنۍ غړو دا وئیلي وو چې په دې ورونو کښې مشر حبیب الله، دوېم عزیز الله او درېم معز الله خان دی. نو دلته معز الله یو لوري ته دا وائي چې د دهٔ دا مشر ورور په 1176هـ کښې د څلوېښتو کالو د چلې (چله روزمره کښې د څلوېښتو ورځو وي) نه پس وفات شو. نو که مونږه 1176 نه 40 منفي کړو نو 1136 به تري نه راوزي. کوم چې د عزیز الله د پیدائش کال دی. هسې خو معز الله کشر دی. او دا هم علم نشته چې دې دواړو ورونو په مینځ کښې څومره خویندې دي. خو مونږه د معز الله د زېږون نېټه په کار ده چې 1138هـ مقرر کړو. ځکه چې هرکله دی 1159هـ کښې خپل دیوان تکمیل ته رسوي او بیا 1161هـ کښې ئې فائنل پروف ریډنګ کوي نو دا ټولې

خبرې د دې تقاضا کوي چې د دهٔ عمر دې کم از کم شلو کالو نه بره وي. ځکه چې پښتو ژبې کښې نابغه روزګار شخصيت خوشحال خان ختک تېر دی او هم د شلو کالو په عمر کښې ئې شاعري شروع کړې ده او ديوان خو ئې بيا ډېر وروستو سر ته رسولی دی. دغسې د پښتو شعري ادب کښې تقريبا هر شاعر د عمر اخري برخه کښې ديوان تکميل ته رسوي. خو دلته معز الله دا کار اندازاً د 23 کالو په عمر کښې ترسره کوي. او دغه درې ژبيز ديوان نه چې اوزګار شي نو بيا په 1163 کښې د ميا عمر صاحب مناقب پايه تکميل ته رسوي.

دې سره دی په فارسۍ کښې يو بل کتاب "جامع البدائع" هم تحريروي چې په څلورو برخو مشتمل دی. يعنې (1) معدن الجوهر (2) الفرائد (3) الصنائع منتخبات او (4) جامع البدائع چې طب سره تعلق لري. د څلورمې رسالې په پيل کښې ليکي:

"بعد هٰذا اين خاکسار سياه نامه معزالله افغان مهمند الکوتلوسيه ...مسمٰی به جامع البدائع ماخود از کتب ثقات تاليف نمود"(18).

البته په دې تاريخ نهٔ ورکوي. خو د دې مطلب دا هم نهٔ دی چې ګنې معز الله مومند 1176 نه پس ژوندی نهٔ ؤ. ځکه چې د تيمورنامې د اخري مخ نه يو مخ وړاندې په حاشيه کښې معز الله خان مومند د خپلې هغه کوروداني چې سرهند شريف سره ئې تعلق لرلو. په مرګ يوه مرثيه ليکلې ده چې په کښې د دې د مرګ نېټه هم ورکوي. دلته ټوله مرثيه ورکول به غير ضروري وي البته د مرثيې کوم شعرونه چې د دې د وفات مياشت او کال سره تعلق لري هغه په دې ډول دي:

هزار اه زجا ناله درجهان برخاست
صدائی نوحه زمين تا به اسمان برخاست
چون رفت هستی بربست بادشاه بيگم
زبادشاه و گدا ناله و فغان برخاست
چو بود يوم الثلثاء و عشر ذوی قعد

کــه ان عفيفــه ز دنيــا ســوی جنــان برخاســت
اگرچــه بــود زنــوروز در خوشــي عــالم
ولــی زمــاتمِ او ديــده خــون فشــان برخاســت
غريــب اور زيــن بــس بــه روز ســه شــنبه
کــه کنخــدا شــد و توليــد و هــم زجــان برخاســت
چــو ســال رحلــتِ او جســت و جــوئ کــای بــود
کــه رفــت "بــی بــی جنــت" همــين فغــان برخاســت (19)

دا مرثيه يو څو خبرې په ګوته کوي. د عددي ارزښت "بي بي جنت" نه 1182هـ راوزي. بلـه دا چـې دا پـه ورځ ديارلسـمې ذي قعـده وه. او د سـه شـنبې ورځ. نـو 13 ذي قعـده 1182هـ 21 مـارچ 1668ء سـره سـمون خـوري. بلـه خبـره دا کـوي چـې پـه دې ورځ د نـوروز د وجـې عـالم کښـې خوشـحالي وه. 21 مـارچ واقعـي سـره د نـوروز ورځ وي. نـو تـر دې تاريخـه خـو دی خامخا ژوندی ؤ.

مـونږه کـه د اربـاب معـز الله خـان د ژونـد مطالعـه کـوو نـو يـوه خبـره ورکښـې لکـه د روڼ لمـر روښـانه ده او هغـه دا چـې اوليـاء سـره مينـه د حـد نـه زياتـه لـري. يـو لـوري تـه د سـرهند شـريف د ګـدائۍ مريـد دی. بـل طرفتـه شعري سبك ئې د رحمـان بابـا دی. دريم طرفتـه د ځمکنو ميـا عمـر صـاحب نـه دومـره متـاثره دی چـې د هغـه پـه بابلـه د پنځوسـو نـه زيـات کرامـات بيـانوي. خـارجي ذرائـع (مولانـا مسـعود ګـل او مولانـا اخـون دادين) ئـې هـم د ميـا عمـر صـاحب پـه تابعـدارو مريـدانو کښـې شـمېري. او هغـه سـره د عقيـدت اظهـار کښـې د هغـهٔ لېوالتيـا تـه وګـورئ چـې د دهٔ نـوم "معـز" او د دهٔ د پير نوم "ميا عمر" خپلو کښې څومره ښهٔ نسبت جوړوي يعني:

حـرف دو از نـام مبـارك مراسـت : مـيم ميـا افسـر تـارك مراسـت
عـين وی انـدر دلِ نـام مـن اسـت : در دو جهـان سـكه بـه نـام مـن اسـت

يعنـي د ميـاں عمـر صـاحب د وړومبنـي نـوم ميـاں "مـيم" د دهٔ د نـوم سـر دی. او د هغـوئ د دويـم نـوم عمـر "ع" د دې د نـوم "م.ع.ز" زړهٔ يعنـي ميـنځ

کښــې دی. د دې نــه پرتــه د میــا عمــر صــاحب نــورو دوو مریــدانو مولانــا مســعودګل پاســني او مولانــا اخــون دادیــن د معــز الله مومنــد خبــرې چــې میــا صــاحب ســره اړه لــري هــم کــاملې دیانــت داری ســره نقــل کــړې دي. د مســعودګل نقــل او د دادیــن نقلونــه چــې زبــاني وو. نــو هغــه ئــې زبــاني نقــل کړۀ. او د دادین اخري خبره

"د ســــــربند معـــــــز الله قصـــــــه وئیلـــــــې
دا دُر ئـــې پـــه فارســـی کتـــاب کښـــې ښـــکلې"

کښــې واقعــې چــې هــم د ۀ د فارســي کتــاب "مجمــع الاســرار" نــه رانقــل کــړې ده چــې د ســربند یــو غــل ؤ چــې عــالم تــرې تنــګ ؤ. او د دۀ پــه رفاقــت کښــې میــا صــاحب تــه حاضــر شــو. او توبــه ئــې وکــړه نــو نظــر ئــې بحــال شــو. دا واقعــه معــز الله مومنــد د مجمــع الاســرار پــه دویشــتم نمبــر کرامــت کښــې داسې لیکلي دي:

کرامــت بســت و دویــم دُزدِ ســر بنــد کــه کــه در دُزدی کــور شــد و بــدعا بینا شده باز دُزدی کرده.

غل معز الله مومند ته وائي.

گفــت اگــر بــاتو شــم همعنــان : بوســه زغــم بــر درِ ان اســتان
روز دگــر کــرده رفاقــت بمــن : کــرد طــواف بــه قطــبِ زمــن
کــرد میــان قصـۀ احوال خویش : گفت بـه او عـارفِ فرخنده کیش
........................ ........................
نــور بصــارت بحیــونس نمانــد : بــاز قضــا کــرد بچشــمش نشــاند (20)

د خپــل پیــر صــاحب پــه بابلــه د خپــل مشــر ورور بــې ادبــي هــم نــۀ پټــوي او په څلور پنځوسم نمبر کرامت کښې لیکي:

کرامــت پنجــاه و چهــارم درمیــان بــی ادبــی بــرادر خــود وبســبب ان ســزا رسیدن و عفوِ ان

.......................................

اخوی من بود عزیز الله نام : درحق مدام ذوی الاحترام
گفت سخن جارح حد ادب : نکتۀ بیهوده گزشتش به لب
شامت کردار وی از خان ومان : ما همه گشتیم برون در زمان
شاه عقب کرد بر احوالِ ما : فوج محصل شده دنبال ما (21)

نور ښۀ اوږد بیان دی. معذرت غواړم د دې دومره بیان مطلب دا دی چې د دۀ د ځمکنو حضرت میا عمر صاحب سره بسیار عقیدت ؤ. میا عمر صاحب په 1190هـ کښې وفات شوی دی. نو که چرې معز الله دغه ښېټې پورې ژوندی ؤ نو د میا عمر صاحب سره د ارادت او عقیدت د جذبې لاندې به ئې خامخا مرثیه یا مرثیې لیکلې وي. او د میا عمر صاحب په دربار کښې کاتبانو یا معز الله به په خپل قلم نقل کړې وې. خو داسې ښکاري چې د دوئ ژوند د خپل پیر صاحب نه مخکښې ختم شوی دی. ځکه ئې داسې څۀ په نظر رانغلل.

د دې ټول بحث لنډون دا شو چې معز الله مومند د 1138هـ / 1726ء شا و خوا کښې پیدا او د 1182ه او 1190هـ / 1769ء او 1776 مینځ کښې وفات دی. د یاداشت ساتلو دپاره ئې داسې هم وئیلی شو. چې اندازاً 1138هـ / 1726ء کښې پیدا او 1182هـ 1669ء په دوران کښې ژوندی ؤ او دا د دۀ عصر، زمانه یا عهد دی.

# حوالې

(1) ټ، پ، پادري هیوز، کلید افغاني، سرکاري مطبع لاهور، 1872ء، مقدمه، تعلیقات او لغتنامه ځېړندوی عبدالله خدمتګار، د اطلاعاتو کلتور وزارت، د پښتو د پرمختیا او پیاوړتیا امریت. کابل افغانستان، دویم چاپ، 1365 د زمري پینځلسمه، مخ 74- 373 او 98- 397.
(2) حبیبي، عبدالحی، پښتانهٔ شعراء لومړی ټوك، عمومي مطبعه کابل، 1320/ 1941. مخ 92- 290.
(3) خوشحال خان خټك، د خوشحال خان خټك کلیات، عبدالقیوم زاهد مشواني، (مرتب) دانش خپرندوی ټولنې تخنیکي څانګه پېښور، 2005ء، مخ 364.
(4) عبدالحلیم اثر افغاني، د پښتو ژبې پخواني ادب او تاریخ، قلمي نسخه نمبر 1367 پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، مخ 45 – 39.
(5) پروفېسر ډاکټر محمد حنیف، حیات و اثار حضرت میاں عمر چمکني رحمة الله علیه، از مطبوعات اسلامیه کالج پشاور، یونیورسټي اف پشاور، 1987ء مخ 467. په کتاب سن اشاعت نشته خو په کتاب د مولانا عبدالقدوس قاسمي تقریظ اخر کښې 4 مارچ 1987ء لیکلی شوی دی.
(6) مولانا مسعود ګل پاسني، مناقب میاں صاحب چمکني، قلمي، مخ 4- 93، ش محمد حنیف ذکر شوی کتاب مخ 59- 458.
(7) پروفېسر ډاکټر محمد حنیف، حیات و اثار، ذکر شوی کتاب، مخ 422.
(8) مولانا اخون دادین، مناقب حضرت میاں عمر صاحب چمکني، قلمي، ش، محمد حنیف ذکر شوی کتاب، مخ 62- 458.
(9) معز الله خان مومند، دیوان معز الله خان مهمند، همېش خلیل، (م) شاهین برقي پرېس اندرون کابلي ګېټ پېښور، اکتوبر 1957، سریزه مخ 8-7.
(10) معز الله خان مومند، دیوان معز الله مهمند مسمیٰ به ائینه نما، خیال بخاري، (م) پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، اګست 1958ء مقدمه مخ 14 ..... په دې دیوان د خیال بخاري مقدمه 15 جون

1958تاريخ لري. خو د پېښور يونيورستي سابقه وائس چانسلر (کرنل) منور خان افريدي پرې پېش لفظ 2 اګست 1958ء ليکلی دی.

(11) معز الله بن ملك عبدالله خان مرحوم، ائينه معنٰی نما، قلمي نسخه نمبر 990، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورستي، د معز الله په خط، 29 ذی قعده، 1159هـ / 13 دسمبر 1746.

(12) معز الله بن عبدالله بن ملك محمد، مجمع الاسرار، مناقب ميان صاحب چمکني، قلمي نسخه نمبر 12921 کتابخانه خانۀ فرهنګ جمهوري اسلامي ايران پشاور، مخ 21- 120.

(13) خيال بخاري، د معز الله ديوان، ائينه نما، مقدمه مخ 18.

(14) پوهاند صديق الله رښتين، د پښتو تاريخي سيمينار، يونيورستي بك ايجنسي خېبر بازارپېښور، 1987ء مخ 10- 9.

(15) پردل خان ختك، د معز الله مومند په شاعرۍ او شخصيت يو تجديدي نظر، ش، خورې ورې ملغلرې، د مقالو ټولګه، پښتو ادبي مرکز سرائې نورنګ ضلع لکي مروت، اشاعت دويم اګست 1996ء، مخ 56 – 153. اشاعت اول، جون 1989.

(16) معز الله خان مومند، د خپل زوئ فيض الله تاريخ پيدائش باندې فارسي کښې نظم، ش، تيمورنامه، قلمي 568 پښتو اکېډيمي پېښور يونيورستي، د اخري سپينې پاڼې ورومبنی مخ .

(17) عبدالقدوس هاشمي، تقويم تاريخي (قاموس تاريخي) اداره تحقيقات اسلامي اسلام اباد، طبع دويم، 1987، مخ 294.

(18) معز الله افغان مومند، جامع البدائع، قلمي نسخه نمبر 12922 کتابخانه خانه فرهنګ، جمهوري اسلامي ايران، پشاور.

(19) معز الله مومند، مرثيه بر وفات خانم خود، تيمورنامه قلمي نسخه نمبر 568 پښتو اکېډمي پېښور يونيورستي، ټولو کښې اخری مخ نه يو مخ وړاندې په حاشيه کښې.

(20) مجمع الاسرار، ذکر شوې قلمي نسخه، مخ 8- 66.

(21) ايضاً، مخ 20- 117.